## دافغانستان اسلامی جمهوریت

## دعدلیی وزارت

# رسمی جریده

## دکار کوونکو داضافه کاری دچارو دتنظیم مقرره

## مقرره تنظیم امور اضافه کاری کارکنان

دخپریدو نیټه د ۱۳۹۰ هـ.ش کال دزمری دمیاشتی (۲۵) پرله پسی نمبر (۱۰۵۶)

تاریخ نشر : (۲۵) اسد سال ۱۳۹۰ هـ. ش نمبرمسلسل (۱۰۵۶)

**در این شماره :**

**مقرره تنظیم امور اضافه کاری کارکنان .**

**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم "دقیق"

**۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷**

**ددفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵**

مرستیال : نور علم **۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

**مهتمم: محمدجان ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲**

ویب سایت : www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ........................................(۳۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :...........................................(۴۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

**د کارکوونکو د اضافه کارۍ د چارو**
**د تنظيم مقرره**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت**
**وزيرانو د شوري**
**مصوبه**

**ګڼه: (۱۷)**
**نېټه: ۱۷/ ۵/ ۱۳۹۰**

د کارکوونکو د اضافه کارۍ د چارو د تنظيم مقرره چې په (۳) فصلونو او (۲۱) مادوکې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو شورئ لخوا تصويب شوې منظوروم.

دغه مصوبه له نوموړې مقررې سره يو ځای په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د اسلامی جمهوريت**
**رئيس**

**مصوبۀ**
**شورای وزیران جمهوری اسلامی**
**افغانستان**
**در مورد انفاذ مقررۀ تنظیم امور**
**اضافه کاری کارکنان**

**شماره: (۱۷)**
**تاریخ: ۱۳۹۰/۱۷/۵**

مقررۀ تنظیم امور اضافه کاری کارکنان که به داخل (۳) فصل و (۲۱) ماده از طرف شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده، منظور می دارم.

این مصوبه همراه با مقررۀ مذکور از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

**حامد کرزی**
**رئیس جمهوری اسلامی**
**افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ تنظیم امور اضافه کاری کارکنان

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۱ |
| مادۀ سوم: | کمیسیون اضافه کاری | ۱ |
| مادۀ چهارم: | فورم اضافه کاری | ۲ |
| مادۀ پنجم: | ساعات اضافه کاری | ۳ |


### فصل دوم

### شرایط و طرز پرداخت مزد اضافه کاری


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ ششم: | محاسبۀ مزد اضافه کاری | ۴ |
| مادۀ هفتم: | محاسبۀ اجزا و ضمایم مزد در اضافه کاری | ۵ |
| مادۀ هشتم: | موافقۀ وزارت مالیه | ۵ |
| مادۀ نهم: | پرداخت مزد اضافه کاری | ٦ |
| مادۀ دهم: | مزد ماهوار اضافه کاری | ٦ |
| مادۀ یازدهم: | اضافه کاری کارکن معلول | ٦ |
| مادۀ دوازدهم: | اضافه کاری مادر دارای طفل شیرخوار | ۷ |
| مادۀ سیزدهم: | منع اضافه کاری زن حامله و کارکن نو جوان | ۷ |
| مادۀ چهاردهم: | حالات قطع اضافه کاری | ۷ |
| مادۀ پانزدهم: | ممنوعیت اضافه کاری | ۸ |

## فصل سوم

## احکام متفرقه

مادهٔ شانزدهم: اضافه کاری استثنائی.........................۹
مادهٔ هفدهم: اضافه کاری خارج از اداره.........................۹
مادهٔ هجدهم: اضافه کاری کارکنان روزمزد.........................۱۰
مادهٔ نزدهم: اضافه کاری در ادارات غیر دولتی.........................۱۰
مادهٔ بیستم: مکلفیت آمر اداره.........................۱۰
مادهٔ بیست ویکم: انفاذ.........................۱۱

**د کارکوونکو د اضافه کارۍ د چارو**
**د تنظیم مقرره**
**لومړی فصل**
**عمومي حکمونه**

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د کار د قانون د اته دېرشمې مادې په (۴) فقره کې د درج شوي حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱ــ د کار د قانون د اته دېرشمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اضافه کاریو د حالاتو او مواردو تثبیت.

۲ــ د اضافه کارۍ د ساعتونو د شرایطو او حدودو ټاکل.

۳ــ داضافه کارۍ دمزد د اندازې تثبیت.

**مقررۀ تنظیم امور اضافه کاری**
**کارکنان**
**فصل اول**
**احکام عمومی**

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقرره به تأسی ازحکم مندرج فقرۀ (۴)مادۀ سی وهشتم قانون کا ر وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت انداز:

۱- تثبیت حالات وموارد اضافه کاری مندرج فقرۀ(۱)مادۀ سی وهشتم قانون کار.

۲- تعیین شرایط وحدود ساعات اضافه کاری.

۳- تثبیت اندازۀ مزداضافه کاری.

## د اضافه کارۍ کمېسيون

**درېيمه ماده:**

د اضافه کارۍ د وړانديزونو د ارزونې په منظور، د کار حجم او خصوصيت، او په وزارتونو او دولتي اداروکې ددې مقررې په دوه يمه ماده کې درج شوو وظيفوي ايجاباتو او د موخو پلي کولو ته په پام سره، هرکال يوکمېسيون د هغو د رهبري هيئت لخوا او په ولاياتوکې د اړوند ولايت د اداري مجلس او په غير دولتي اداروکې د اړوند واکمن آمر لخوا، توظيفېږي.

## د اضافه کارۍ فورم

**څلورمه ماده:**

(۱) د اضافه کارۍ د ښه تنظيم په منظور اداره، ددې مقررې منضمه فورم ترتيب او برابروي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی فورم په دريو نقلونو کې ترتيب او د لومړۍ درجې اعطاء آمر له منظورۍ وروسته، د هغه يوه نقل اړوندې ادارې ته، دوه يم نقل د بشري منابعو ادارې او

## کميسيون اضافه کاری

**مادۀ سوم:**

به منظورارزيابی پيشنهادات اضافه کاری، بانظرداشت حجم و خصوصيت کار، ايجابات وظيفوی وتحقق اهداف مندرج مادۀ دوم اين مقرره، دروزارت ها و ادارات دولتی کميسيون ازطرف هيئت رهبری آنها ودرولايات ازطرف مجلس اداری ولايت مربوط ،ودرادارات غيردولتی ازطرف آمرذيصلاح مربوط همه ساله توظيف می گردد.

## فورم اضافه کاری

**مادۀ چهارم:**

(۱) اداره به منظورتنظيم بهترامور اضافه کاری، فورم منضمۀ اين مقرره را ترتيب وتهيه می نمايد.

(۲) فورم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده درسه نقل ترتيب وبعد از منظوری آمراعطای درجه اول، يک نقل آن به ادارۀ مربوط، نقل دومی به ادارۀ منابع بشری ونقل سومی

دربيم نقل يې د معاشاتو څانګې ته استول کېږي.

**د اضافه کارۍ ساعتونه**

**پنځمه ماده:**

(۱) په عادي ورځوکې اضافه کاري له (۴) ساعتونوڅخه زياتېدای نشي.

(۲) هغې ادارې چې دتخنيکي او وظيفوي شرايطو له لحاظه، ددې مقررې په (۱) فقره کې له درج شوو ساعتونو څخه استثناً، د زياتې اضافه کارۍ اړتيا ولري، مکلفې دي د هغې دليلونه وړاندې او په هر مالي کال کې د وزيرانو د شورې منظوري ترلاسه کړي.

(۳)په غير دولتي اداروکې ددې مقررې په (۱) فقره کې له درج شوو ساعتونوڅخه زياته اضافه کاري د اړوندې ادارې د واکمن آمر په منظورۍ صورت مومي.

آن به شعبۀ معاشات ارسال می گردد.

**ساعات اضافه کاری**

**مادۀپنجم:**

(۱) اضافه کاری درروز های عادی کار از (۴) ساعت بيشتر بوده نمی تواند.

(۲) اداراتی که ازلحاظ تخنيکی وشرايط وظيفوی،استثناً به اضافه کاری بيشتر ازساعات مندرج فقرۀ (۱) اين ماده نيازداشته باشند،مکلف انددلايل آنرا ارايه و منظوری شورای وزيران را در هرسال مالی اخذ نمايند.

(۳) اضافه کاری در ادارات غيردولتی بيشترازساعات مندرج فقرۀ (۱)اين ماده به منظوری آمرذيصلاح ادارۀ مربوط صورت می گيرد.

## دوه یم فصل

## د اضافه کارۍ د مزد د ورکړې ډول او شرایط

### د اضافه کارۍ د مزد محاسبه

شپږمه ماده:

(۱) د اضافه کارۍ مزد په لاندې توګه محاسبه او ورکول کېږي:

۱- په عادي ورځوکې، د کارکوونکي میاشتنی مزد، د میاشتې د کار د ساعتونو پرمنځني شمېر تقسیم پر (۲۵) سلنه ضرب، د اضافه کارۍ دمزد له في ساعت سره مساوي.

۲- د رخصتیو په ورځوکې، د کارکوونکي میاشتنی مزد، د میاشتې د کار د ساعتونو پرمنځني شمېر تقسیم پر (۵۰) سلنه ضرب، د اضافه کارۍ له في ساعت سره مساوي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقرې کې درج شوی د کار د ساعتونو منځنی شمېر هرکال د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو د وزارت لخوا ټاکل کېږي.

## فصل دوم

## شرایط وطرز پرداخت مزد اضافه کاری

### محاسبهٔ مزد اضافه کاری

مادهٔ ششم:

(۱)مزد اضافه کاری طورذیل محاسبه و پرداخته می شود:

۱- درروز های عادی کار، مزد ماهوارکارکن، تقسیم تعداد وسطی ساعات کاردرماه ضرب(۲۵) فیصد، مساوی به مزد فی ساعت اضافه کاری .

۲- درروزهای رخصتی، مزد ماهوار کارکن، تقسیم تعداد وسطی ساعات کاردرماه ضرب (۵۰) فیصد، مساوی به مزد فی ساعت اضافه کاری.

(۲) تعداد وسطی ساعات کارمندرج فقرهٔ (۱) این ماده همه ساله ازطرف وزارت کار واموراجتماعی، شهدا ومعلولین تعیین می گردد.

## په اضافه کارۍ کې د مزد د اجزاوو او ضميمو محاسبه

**اوومه ماده:**

د مزد اجزأ (د بشپړ تعليم او تحصيل د سند او علمي، مسلکي، تخصصي او فني- تدريسي کادرونو پولي امتياز) او ضميمې (د روغتيا مضرو، طبيعي نامساعدو، اقليمي او اقتصادي او ټولنيزو سختو شرايطوکې د کار امتياز) د اضافه کارۍ د مزد د سنجش په وخت کې محاسبه او ورکول کېږي.

## د ماليې وزارت موافقه

**اتمه ماده:**

که چېرې د منظور شوي تخصيص په تناسب په يوه ربع کې د اضافه کارۍ د مزد اندازه، له (۱۵) سلنې څخه اضافه شي، پدې صورت کې دولتي اداره مکلفه ده، د ماليې وزارت موافقه او په خصوصي اداروکې د اړوند واکمن آمر منظورۍ هم واخلي.

## محاسبهٔ اجزأ وضمايم مزددراضافه کاری

**مادهٔ هفتم:**

اجزای مزد(امتيازپولی سند تعليم وتحصيل کامل وکادر علمی، مسلکی، تخصصی و فنی- تدريسی) وضمايم (امتيازکاردر شرايط ثقيل، مضر صحت، نامساعد طبيعی،اقليمی ودشوار اقتصادی واجتماعی) حين سنجش مزد اضافه کاری محاسبه وپرداخته می شود.

## موافقهٔ وزارت ماليه

**مادهٔ هشتم:**

هرگاه اندازهٔ مزد اضافه کاری دريک ربع به تناسب تخصيص منظورشده، از (۱۵) فيصد اضافه گردد، دراين صورت ادارهٔ دولتی مکلف است، موافقهٔ وزارت ماليه ودرادارات غيردولتی منظوری آمرذيصلاح مربوط را نيز اخذ نمايد.

## د اضافه کارۍ د مزد ورکړه

**نهمه ماده:**

د اضافه کارۍ مزد، د ترسره شوي کار د څرنګوالي د رپوټ له ترتيب او د هغې ادارې د لومړۍ درجې اعطاء آمر له تأييد وروسته چې اضافه کارۍ په هغهٔ ځای کې صورت موندلی، اجرأ او ورکول کېږي.

## د اضافه کارۍ مياشتنی مزد

**لسمه ماده:**

د کارکوونکي د مياشتنۍ اضافه کارۍ مزد د هغې له اجزاوو او ضميمو سره، د اصلي مياشتني مزد له اندازې څخه زياتېدای نشي.

## د معلول کارکوونکی اضافه کاري

**يوولسمه ماده:**

اداره کولای شي معلول کارکوونکی، د هغهٔ د موافقې او د هغهٔ روغتيا ته د اضافه کارۍ د نه مضر والي په اړه، د روغتيايي مراجعو د تصديق په صورت کې، د اضافه کارۍ په فهرست کې شامل کړي.

## پرداخت مزداضافه کاری

**مادهٔ نهم:**

مزد اضافه کاری بعد ازترتيب گزارش چگونگی کارانجام شده وتأييد آمراعطای درجه اول ادارهٔ که اضافه کاری درآنجا صورت گرفته است،اجراء وپردا خته می شود.

## مزد ماهواراضافه کاری

**مادهٔ دهم:**

مزد اضافه کاری ماهوارکارکن ازاندازهٔ مزد اصلی ماهواربا اجزأ وضمايم آن بيشتربوده نمی تواند.

## اضافه کاری کارکن معلول

**مادهٔ يازدهم:**

اداره می تواند کارکن معلول را درصورت موافقهٔ وی و تصديق مراجع صحی مبنی برعدم مضربودن اضافه کاری به صحت او شامل فهرست اضافه کاری نمايد.

**د شيدو خوړونكي طفل لرونكې مور اضافه كارئ**

**دوولسمه ماده:**

اداره كولاى شي د شيدو خوړونكي طفل لرونكې مور چې په اداره كې كاركوي، د هغې د موافقې په صورت كې، د اضافه كارئ په فهرست كې شامله كړي.

**د حاملې ښځې او د نوي ځــوان د اضافه كارئ منع**

**ديارلسمه ماده:**

اداره نشي كولاى حامله ښځه او نــوى ځوان كاركوونكى چې په اداره كې كار كوي، د اضافه كارئ په فهرست كــې شامل كړي.

**د اضافه كارئ د قطع كولوحالات**

**څوارلسمه ماده:**

كه چېرې د اضافه كارئ په بهيركې، د كاركوونكي كار اغېزناک ونه ارزول شي يا كاركوونكى د چارو په اجرأكې غفلت او بې پروايي وكړي، د اړوندې ادارې د څانگې د آمر د وړانديز او ددې مقررې په دريمه ماده كې درج شوې اضـــافه

**اضافه كارى مـــادرداراى طفـــل شيرخوار**

**مادۀ دوازدهم:**

اداره مى توانـــد مـــادرداراى طفـــل شيرخواررا كه دراداره كار مى نمايد، درصورت موافقۀ وى شامل فهرســت اضافه كارى نمايد.

**منع اضافه كارى زن حامله وكاركن نوجوان**

**مادۀ سيزدهم:**

اداره نمـــى توانـــد زن حاملــــه و كاركن نوجوان را كـــه دراداره كـــار مى نمايد، شامل فهرست اضافه كارى نمايد.

**حالات قطع اضافه كارى**

**مادۀ چهاردهم:**

هرگـــاه درجريـــان اضـــافه كـــارى، كار كاركن مؤثر ارزيابى نگردد ويـــا كاركن دراجراى امورغفلت وســـهل انگارى نمايد،بـــه اســـاس پيـــشنهاد آمرشعبۀادارۀ مربوط وتأييد كميسيون اضافه كارى مندرج مادۀ ســـوم ايـــن

کارۍ د کمېسیون د تأیید پربنسټ، د هغهٔ اضافه کاري قطع کېږي.

د اضافه کارۍ ممنوعیت

پنځلسمه ماده:

(۱) اضافه کاري، دکار دقانون په یوڅلوېښتمه ماده کې په درج شوو ورځوکې جواز نه لري، لاندې حالات د اضافه کارۍ د کمېسیون په موافقې سره لدې حکم څخه مستثني دي:

۱ــ په دایماً فعالو اداروکې کار.

۲ــ په اداروکې په غیر انقطاع وړکارونوکې له ناوړو طبیعي پېښوڅخه د مخنیوي، د ترمیماتي بېړنیوکارونو او عامه خدمتونو لکه د برېښنا، اوبو رسولو د شبکو، روغتیايي خدمتونو او د محمولو د بار ګیرۍ (بار اخیستنې) او تخلیې (تشونې) په منظور، چې د هغو د اتلاف خطر متصور وي.

۳ــ داضافه کارۍ دکمېسیون په تشخیص سره د ادارې د اړتیا وړ نور کارونه.

مقرره، اضافه کاری وی قطع می گردد.

ممنوعیت اضافه کاری

مادهٔ پانزدهم:

(۱) اضافه کاری در روزهای مندرج مادهٔ چهل ویکم قانون کارجواز ندارد، حالات ذیل به موافقهٔ کمیسیون اضافه کاری ازاین امر مستثنی است:

۱- کار درادارات دایماً فعال.

۲- کارهای غیرقابل انقطاع در ادارات به منظور جلوگیری از حوادث ناگوارطبیعی، کارهای عاجل ترمیماتی وخدمات عامه مانند شبکه های برق، آبرسانی، خدمات صحی وبارگیری وتخلیهٔ محموله های که خطراتلاف آن متصور باشد.

۳- سایرکارهای موردنیاز اداره به تشخیص کمیسیون اضافه کاری.

## دریم فصل
## متفرقه حکمونه

**استثنايي اضافه کارۍ**

**شپاړسمه ماده:**

که چېرې د کار په بهیر کې غیر اټکل شوې اضافه کارۍ ته په عاجله او استثنايي توګه اړتیا احساس شي، د هغې اجرأ کول د اړوندې ادارې د آمر په تجویز او وړاندیز او د لومړۍ درجې اعطاء آمر په منظورۍ صورت موندلای شي.

**له ادارې څخه بهر اضافه کاري**

**اوولسمه ماده:**

(۱) له ادارې څخه بهر د کارکوونکي اضافه کاري د ادارې د ضروري اړتیا له په پام کې نیولو سره، د اړوند آمر او د لومړۍ درجې اعطاء آمر په منظورۍ په هغه ځای کې چې اضافه کاري ترسره کېږي، صورت مومي، پدې شرط چې کارکوونکی په اصلي اداره کې د اضافه کارۍ په فهرست کې شامل نه وي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي کارکوونکي د اضافه کارۍ مزد، د

## فصل سوم
## احکام متفرقه

**اضافه کاری استثنایی**

**مادۀ شانزدهم:**

هرگاه درجریان کاربه اضافه کاری غیر پیشبینی شده به صورت عاجل و استثنایی ضرورت احساس گردد، اجرای آن به تجویز و پیشنهادآمر ادارۀ مربوط ومنظوری آمراعطای درجه اول صورت گرفته می تواند.

**اضافه کاری خارج ازاداره**

**مادۀ هفدهم:**

(۱) اضافه کاری کارکن خارج ازادارۀ اصلی جهت همکاری بانظرداشت نیازمبرم اداره، توسط آمرمربوط ومنظوری آمراعطای درجه اول که درآنجا اضافه کاری انجام می پذیرد، صورت می گیرد، مشروط براینکه کارکن درادارۀ اصلی شامل فهرست اضافه کاری نباشد.

(۲) مزد اضافه کاری کارکن مندرج فقرۀ (۱)این ماده ازبودجه وتخصیص

هغې ادارې له بودجې او تخصيص څخه چې په هغه ځای کې اضافه کاري ترسره کېږي، ورکول کېږي.

## د روز مزد کارکوونکو اضافه کاري

اتلسمه ماده:

هغه کارکوونکي چې د کار مزد (د ورکړشوي محصول يا ترسره شوي کار د في واحد په مقابل کې د مزد د ورکړې ډول) او روز مزد په سيستم کارکوي او د ادارې يا کارفرما د ضروري اړتيا او تجويز پربناء اضافه کاري کوي، د هغو مزد ددې مقررې د حکمونو مطابق د محاسبې او ورکړې وړ دی.

## په غير دولتي اداروکې اضافه کاري

نولسمه ماده:

په غير دولتي اداروکې اضافه کاري او د هغې دورکړې ډول، دکارکوونکي او کارفرما د موافقې پربنسټ ددې مقررې د حکمونو مطابق صورت مومي.

اداره ايکه درآنجا اضافه کاری انجام می پذيرد، پرداخته می شود.

## اضافه کاری کارکنان روزمزد

مادۀ هجدهم:

کارکنانی که به سيستم کار مزد (شکل پرداخت مزد درمقابل فی واحد محصول پرداخت شده يا کارانجام شده ) و روز مزدکار می نمايند وبنا به نياز مبرم و تجويز اداره يا کارفرما اضافه کاری می نمايند،مزد آنها مطابق احکام اين مقرره قابل محاسبه وپرداخت می باشد.

## اضافه کاری درادارات غيردولتی

مادۀ نزدهم:

اضافه کاری ونحوۀ پرداخت مزدآن درادارات غيردولتی، به اساس توافق کارکن وکارفرما مطابق احکام اين مقرره صورت می گيرد.

## د ادارې د آمر مکلفیت

**شلمه ماده:**

د اړوندې څانګې آمر مکلــف دی، د اضافه کارۍ له بهیرڅخه څارنه وکړي او په اضافه کارۍ کې د شامل کارکوونکي له حاضروالي څخه دې د اضافه کارۍ په ساعتونوکې مراقبت وکړي.

## انفاذ

**یوویشتمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي او په نافذېدو سره يې، د ۱۴۲۰هـ ق کــال د ذوالقعدة الحرام د نهمې نېټې په (۷۹۱) ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې د کارکوونکو د اضافه کارۍ مقرره، ملغي ګڼل کېږي.

## مکلفیت آمراداره

**مادۀ بیستم:**

آمرشعبۀ مربوط مکلف است ،ازجریان اضافه کاری نظارت بــه عمـــل آورده وحاضربودن کارکنان شامل اضافه کاری را درساعات اضافه کـــاری مراقبـــت نماید.

## انفاذ

**مادۀبیست ویکم:**

این مقرره ازتاریخ نشردرجریدۀ رسمی نافذ می گردد و با انفاذ آن ،مقـــررۀ اضافه کاری کارکنان منتشرۀ جریـــدۀ رسمی شـــماره(۷۹۱) مـــؤرخ نهـــم ذوالقعدة الحرام سال ۱۴۲۰هـــــ.ق ملغی پنداشته می شود.

## فورم اضافه کاری

| شماره | شهرت | | بست | علل ودلایل در رابطه به ضرورت اضافه کاری کارکنان خدمات ملکی به تشخیص آمر مربوط | ساعات اضافه کاری در روز های عادی | ساعات اضافه کاری در روز های تعطیل | معیاد اضافه کاری | موافقه کارکنان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |

اسم وامضای آمر یا مسؤل اداره مربوط :( )

| |
|---|
| **نظر کمیسیون مربوط:** |
| **عضو کمیسیون** **عضو کمیسیون** **رئیس کمیسیون** |

**منظوری آمر اعطای درجه اول**

## اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصـــلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

برای کتاب فروشی هابا ۱۰ فیصد تخفیف ازقیمت روی جلد

خارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

ISLAMIC REPUBLIC

OF

AFGHANISTAN

MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

# Regulation on arranging employees' overtime

**Date: 16th AUGUST .2011**

**ISSUE NO :(1056)**